Pashto

# د IDNYC غوښتنلیک

**د عریضه کوونکو 14 کالو او لویانو لپاره**

زما د IDNYC شمیره ده:

☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐

لطفاً په روښانه توکه چاپ کړئ

## د غوښتنلیک ډول - یو وټاکئ

**نوی غوښتنلیک:** ☐ د لومړي IDNYC غوښتنلیک. ☐ کارت له 6 میاشتو څخه ډیر دمخه ختم شو.

☐ **نوی توب** (کارت به د 60 ورځوپه دننه ختم شي یا له 6 میاشتو څخه لږ دمخه ختم شو.) ☐ **بیا غوښتنلیک:** (هیڅکله کارت نه دی ترلاسه شوی او بیا غوښتنه کولو ته اړتیا لري.)

☐ **اوسمهالیز کارت: زه د خپل کارت په اړه معلومات تازه کولو ته اړتیا لرم.** (د داخلېدني مرکز ته زوړ IDNYC کارت راوړي.)

☐ **کارت بدل کړئ: ورک شوی / غلا شوی / خراب شوی / ویجاړ شوی** (د $10 بدیل فیس شتون لري تر څو عریضه کوونکي د سختۍ معافیت لاسلیک کړي نه وي. تاسو کولی شئ د دې غوښتنلیک وړاندې کولو مخکې انالائن پیسې ورکړئ. په شخصي پیسو ورکولو لپاره، تاسو باید دا غوښتنلیک د IDNYC داخلېدني مرکز کې وسپارئ چې د مالیې چارو دفتر په څانګه کې موقعیت لري. د نورو معلوماتو لپاره، www.nyc.gov/idnyc وګورئ.)

## د عریضه کوونکی معلومات

☐ دلته چیک کړئ که د ساتونکي سره غوښتنه وکړئ

**1. لومړی/ورکړل شوی نوم:** ☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐

**2. منځنی نوم او یا لومړنی:** ☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐

**3. وروستنی نوم:** ☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐

**4. د زیږون نیټه:** M M / D D / Y Y Y Y

**5. د سترګو رنګ:** ☐ نصواري ☐ زرغې ☐ تور ☐ وودي ☐ شین ☐ خړ ☐ رنګین-رنګ

**6. لوړوالی:** ☐ فټه ☐☐ انچې

**7. جنس:** ☐ ښځینه ☐ نارینه ☐ X (نه ښځینه یا نرینه) ☐ ندي ټاکل شوی

**8. ایمیل:** ____________________

ستاسو ایمیل/ تیلیفون به یوازې د داخلي موخو لپاره کارول کیږي

**9. تیلیفون:** ☐☐☐ - ☐☐☐ - ☐☐☐☐

**10.** تر 2 پورې (د ASL په شمول) **د ژبې ترجیح:** ____________________

**11. تجربه کاره:** ☐ دلته وګورئ که تاسو تجربه لرونکی یاست څوک چې د متحده ایالاتو وسله والو ځواکونو، ملي ساتونکو، یا ساتنه کې خدمت کاوه غواړئ چې د "تجربه لرونکی" د کارت په مخ کې چاپ شوی ولري.

**12.** د بسپنه ورکولو ژوند ثبتیال: د نیویارک ایالت د روغتیا اداري (NYS DOH) د بسپنه ورکولو ژوند ثبتیال کې د شمولیت لپاره، "هو" بکس وګورئ او خپل نوم لاسلیک کړئ. تاسو دا تصدیق کوئ چې تاسو د 16 کلونو او یا زوړ یاست؛ د خپل ټولو ارګانونو او نسجونو د ټرانسپلانټ کولو، څیړنې یا د دواړو لپاره د رضایت ورکوئ؛ د نیویارک ښار ته د خپل نوم لیږدولو او د NYS DOH کې د داخلیدلو لپاره د معلوماتو پیژندلو اجازه ورکوئ؛ او NYS DOH ته اجازه ورکوئ چې ستاسو د مرګ په وخت کې د فدرالي تنظیم شوي ارګان مرستندویه سازمانونو او د NYS جواز لرونکي نسجونو او د سترګو بانکونو او روغتونونو ته د دې معلوماتو ته د لاسرسي اجازه ورکوئ. "د ارګان ډونر" به ستاسو د کارت په مخ کې به چاپ شي. چې وړتیا ولري، ستاسو په کارت باید یو ادرس شامل وي. چې وړتیا ولري، ستاسو په کارت باید یو ادرس شامل وي. تاسو به د NYS DOH څخه اضافي تایید ترلاسه کړئ، کوم چې به دا فرصت چمتو کوي چې ستاسو بسپنه محدود کړي.

**ایا تاسو 16 کاله یا لوی یاست او غواړئ چې د بسپنه ورکولو ژوند ثبتیال کې اضافه شئ؟ هو:** ☐ M M / D D / Y Y Y Y

د ډونر رضایت لاسلیک: ____________________

## ادرس

**13. شمیره او کوڅه:** ☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐ ☐☐☐☐☐☐☐

اپارتمان #/ پوړ/ کوڅه/یونټ/خونه

**ښار:** ☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐☐ **ایالت:** N Y **زپ کوډ:** ☐☐☐☐☐

**بوره (چک وڼ✓):** ☐ BRONX ☐ BROOKLYN ☐ MANHATTAN ☐ QUEENS ☐ STATEN ISLAND

**14. په کارت کې د یوې بیړني اړیکې تاکل: (اختیاري)** **تیلیفون:** ☐☐☐ - ☐☐☐ - ☐☐☐☐

____________________

لومړی نوم وروستنی نوم

## تصدیق

**15. د عریضه کوونکی او د پالونکی تصدیق (که چیرې مناسب وي):** زه دا اقرار کوم چې عریضه کونکی د نیویارک ښار کې ژوند کوي او ټول هغه اسناد چې وړاندې شوي دي او په دې غوښتنلیک باندې بیان شوي بیانونه زما د علم تر ټولو ښه ریښتیا دي. زه د دې غوښتنلیک په لاسلیک کولو سره دا تصدیق کوم چې زه د نیویارک ښار لخوا ترسره شوي تحقیقاتو سره موافق یم چې د هغه معلوماتو تایید یا تصدیق وکړم چې ما سپارلی دي. زه پوهیږم چې دا تحقیق ممکن د IDNYC لخوا د NYC د ټولنیز خدماتو اداري یا د نورو ښارونو آژانسونو څخه زما په اړه ځینې معلوماتو ته لاسرسی ولري، شامل دي خو د عامه مرستې معلوماتو پورې محدود ندي.

____________________ د عریضه کوونکی لاسلیک

____________________ د پالونکی لاسلیک (که مناسب وی)

M M / D D / Y Y Y Y

د نن ورځې نیټه

**د غوښتنلیک تصویب د سپارلي اسنادو بسیاتوب او مشروعیت پورې اړه لري.**

| OFFICIAL USE ONLY | Date: | ☐ C/O: ____________________ NAME OF CARE-OF ORGANIZATION | ☐ Omit Address |
|---|---|---|---|
| | Print Initials: | | |

# د IDNYC غوښتنلیک لاربنووني

## تاسو باید د IDNYC کارت د غوښتنې لپاره دا لاندې معیار پوره کوئ:

1. لږترلږه د 4 ټکي اسناد، په شمول لږترلږه 3 ټکي د هویت ثابتونه او لږ تر لږه 1 استوګنځی ثابتونه کوي.
2. لږترلږه وړاندې شوي اسنادو څخه باید یو عکس ولري، تر هغه عریضه کوونکی د پالونکی لخوا ملتیا لري.
3. لږترلږه د وړاندی شوي اسنادو څخه یو سند باید د زیږیدنې نیټه ولري.

هیڅ وخت ختم شوی اسناد به ونه منل شي، تر ّهغه په ځانګړې توګه د IDNYC سند لاربنود کې ذکر شوي.
یواځې اصلي اسناد او کاپیانې د صادر کونکي اداري لخوا تصدیق شوي به ومنل شي؛ یواځې بندیز شوي اسناد به هغه وخت ومنل شي کله چې دوی په یوه بندیز شوي حالت کې صادر شوي وی.

## د نومونو مطابقت

ستاسو په ټولو اسنادو نومونه باید د یو بل سره مطابقت ولري. ستاسو د IDNYC په غوښتنلیک نوم باید د هویت د سند تر ټولو لوړ ارزښت ثبوت په څیر وي (لکه ستاسو پاسپورت، د موټر چلولو لائسنس، د زیږون تصدیق نامه، د قونسلګرۍ ID، او داسې نور) ترڅو تاسو هم د محکمې حکم، د واده تصدیق نامه، یا بل کوم حکومت خپور کړی سند کوم چې د قانوني نوم بدلون رامنځته کوي وړاندې کړئ. په هغه صورت کې چې یو عریضه کوونکی دوه پیژندنی اسنادو وړاندیز کوي کوم چې د مساوي شمېرو ارزښت لري، د IDNYC غوښتنلیک باید هغه نوم په هغه سند کې ښکاره کړي چې عکس پکې شامل وي.

## دغوښتونکو عمرونه 21-14 کاله د عکس پیژندنې یا استوګنې سند پرته

د یوه غوښتونکي عمر21-14 کاله د عکس پیژندنې یا د استوګنې سند پرته کېدای شي غوښتنه وکړي په دې صورت کې چې یوساتونکی ورسره وي چې کولی شي له غوښتونکي سره د اړیکې سند وښیي. یو وړ ساتونکی د زیږون والدین، منل شوي والدین، پلندر، قانوني سرپرست، قانوني ساتونکی، د پالونکي پاملرنې والدین، د NYC د ماشومانو د خدماتو لپاره اداري (Administration for Children's Services, ACS) یا د ACS فوستر پاملرنې اداري مجاز کارمند، یا د یوه کوچني بالغ سپانسر دی چې د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت (U.S. Department of Health and Human Services) د کډوالو د بیا میشتېدنې دفتر لخوا یې ټاکل شوی وي.

## د عکس پیژندنه یا د هستوګنځی ثبوت پرته د معیوبوالي سره غوښتنلیکونه

د عمر پرته، یو معیوبیت لرونکی عریضه کوونکی څوک چې د عکس پیژندنې یا د هستوګنځی ثبوت نه لري کیدای شي غوښتنه وکړي که د پالونکی سره ملګری شي څوک چې عریضه کوونکی سره د اړیکو ثبوت څرګندولي شی. د هر عمر عریضه کوونکی لپاره د مستحق پالونکي شملوي: د پراختیایی معیوبوالی خلکو لپاره د NY نیویارک ایالت دفتر څخه واکمن کارکوونکی (OPWDD)، د NYS د روغتیایی اداره (NYS DOH)، د نیو یارک ایالت د دماغي روغتیا دفتر (NYS OMH)، د NYC د روغتیا او دماغي روغتیایی څانګه (NYC DOHMH)، ACS، یو ټاکل شوي ACS رضاعی پاملرنی آژانس، یا یو OPWDD, NYS DOH یا NYS DOHMH چمتو کوونکی، په شمول د استوګنې د پاملرنې اسانتیاوي عملي شوي، تصدیق شوي، اجازه لرونکی، یا NYC DOHMH، NYS DOH، NYS OMH، OPWDD لخوا تمویل شوي؛ د عریضه کوونکی همخوبي څوک چې د OPWDD لخوا معلومه شوی وي چې د پراختیایي معیوبیت یو کس وي; یا دیوه غوښتونکي د ټولنیز امنیت استازی تادیه کوونکی.

## د پالونکی سره د ټولو عریضه کوونکو غوښتنه کول

یو عریضه کوونکی چې د یو پالونکی سره غوښتنه کوي باید لږترلږه دوه ټکي اسناد چمتو کړی چې پیژندنې ثبت کوي په شمول د زیږون نیټې. عریضه کوونکی او پالونکی به هم باید د پالونکی د اړیکو ثبوت وړاندې کړي لکه څنګه چې د IDNYC سند لاربنود په پالونکی برخه کې لیست شوی. پالونکی به باید لږترلږه 3 ټکي اسناد چمتو کړي چې خپله پیژندنه ثابت کوي، په شمول د عکس پیژندنه. که چیرې عریضه کونکی د استوګنځی سند ثبوت ونه لري او د پالونکی سره ژوند کوي، پالونکی کولی شي د IDNYC سند په لاربنود کې لست شوي د استوګنځی اسنادو څخه په کارولو سره د استوګنې خپل ثبوت چمتو کړي او یو تصدیق به چمتو کوي چې عریضه کوونکی د پالونکی سره ژوند کوي. ټول پالونکی باید د IDNYC غوښتنلیک لاسلیک کړي. هغه کارکوونکی چې د پالونکی په توګه کار کوي باید د خپل کارکوونکی IDs به وړاندې کړي.

## د عریضه کوونکی لپاره هستوګنځی څوک چې بې کور دې یا د کورني تاوتریخوالی ژوند کوونکی

یو عریضه کوونکی چې په بې کوره پناګاه کې ژوند کوي کولی شي د پناګاه پته د یو لیک سره چمتو کړي، او دا بیانوي چې دوی هلته لږترلږه 15 ورځې ژوند کړئ او دا چې پناګاه اوسیدونکو ته اجازه ورکوي چې لږترلږه 30 ورځې لپاره په استوګنځی کې پاتې شي. د پناګاه پته به په کارت ښکاره وي. یو عریضه کوونکی چې د کور پته نه لري یا د کورني تاوتریخوالی ژوند کوي باید د نیویارک ښار دننه د استوګنځی ثابتول اړین دي، خو کیدای شي یو غیر انتفاعم سازمان یا مذهبي موسسه وګنل شي د کوم چې پته به د عریضه کوونکی د پاملرنې پټې په کارتونو کې ښکاره شي؛ یا، د کارت څخه پټي پرېښودل شی. د IDNYC کارتونه کوم چې پته نه ښکاره کوي، یا کوم چې د پاملرنې پته ښکاره کوي، ممکن په ځینو حالالتو کې ونه منل شي.

یو عریضه کوونکی څوک چې ثبوت وړاندې کوي چې د NYS پټې د اعتبار وړ پروګرام برخه ده یا په یو NYC پناګاه کې د کورنی تاوتریخوالي ژغورنې لپاره ژوند کوي باید دا ثابته کړي چې دوی په نیویارک ښار کې ژوند کوي. د دوی IDNYC کارت کولی شي د PO پوکس، یا هیڅ پته په ټولو کې وه ښایي.

## د تجربه لرونکي رتبه

که تاسو د خپل نظامي خدمت د سند ترلاسه کولو کې مرستې ته اړتیا لرئ، د NYC د تجربه لرونکو خدماتو څانګه درته مرسته کولی شي. تاسو کولی شئ دوی ته آنلاین په دې ویب پاڼه www.nyc.gov/veterans، یا پر311 زنګ وهلو سره لاسرسی ومومئ.

## د IDNYC کارت تمدیدول

د IDNYC کارتونه د کارت له ختمیدو څخه 60 ورځې دمخه د تمدیدولولپاره اعتبار لري. د تمدید موده د کارت ختمیدو څخه 60 ورځې دمخه پیلیږي او له 6 میاشتو وروسته پای ته رسیږي. یو هغه سړی چې له تیریدو څخه 6 میاشتې دېرورسته د کارت غواړي د کارت نوي غوښتونکي په توګه به ورسره چلند شي. مهرباني وکړئ د کارت په تمدید کولو کې د مرستې لپاره د IDNYC د نوم لیکنې مرکز څخه لیدنه وکړئ.

## د بدلولو کارتونه

د ورک شوي، غلا شوي، یا خراب شوي یو کارت د بدلولو لپاره یوغوښتنلیک $10 فیس لري، مګر غوښتونکی پر مشکل معافیت لاسلیک کړي یا دا ثابتولو لپاره چې د دوی کارت غلا شوی و رسمي سند ولري. د کارتونود بدلولو لپاره تادیات باید د IDNYC څانګې د مالي چارو د نوم لیکنې مرکز ته ورکړل شي.

NYC
Eric Adams
Mayor